**پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»**

-----------------------------------

# دمور دورځی په منا سبت

مورجانی له دي نه  چی دسپک سرو ، جاهلو ،بربرو مذهبی افراطی ډلو ټپلو له لاسه  دهیواد څخه  دمجبوریت له مخی وتلی یم ، ومی بخښه  چی دستا دقبر پر پاسه  می دمور دورځی په مناسبت  ونشو کړی  چی دګلو ګیډی کیږدم او تا ته له نژدی دوعاګانی وکړم - لاکن په زغرده درته وایم چی ته می یوه لحظه هم له یاده نه وځی  اوتل ستا  ښکلی مخ ځما   د ذهن  په هندا ره کی ولویږی اوته د دعا ډیر مستحق یی  ځکه ته ځما دپا لنی ، روزنی  اودژوند  دسمون معمار  اوښونکی یی – همیشه دی نازولم  او ځما لپاره دی هر ډول  رنځ او زحمت ا یستل ترڅو چی دی لوی کړم.

ز ه دهیواد ټولو مړو مورګا نو ته جنتونه  غواړم او  هغه چی ژوندی دی دهغو لپاره روغیتا غواړم  اود مور دورځی په منا سبت ټولو ته دزړه له کومی مبا رکی وایم  اوهیله لرم چی نور افغا نی موردخپل ځوی دغم په ټغرکی  ونه کیښینی  اویا داچی نور د ټوپک غږ  وا نوری  اوهغه میند و او مور ګا نو چی خپل زامن  دلاسه  ورکړی دی هغوی ته صبر اودهغو مړو ته جنتونه غواړم – اودا سی څرګندوم چی دافغانستان ننی شخړی ټول د هغو بی لارو او نا مسلما نو جنګ سالارانو سوغات دی چی افغا نی کورنی په غم کی کیښینولی دی  یعنی هغه ملا ، طا لب ،جها دی قوماندان او داخلی او خارجی غلو ، داړه مارانو  دی چی یوشمیر یی  ددولت پر چوکی نا ست دی او څه نور یی د افغا نستا ن په غرونو اورغونو کی ژوند کوی او له هغه ځای څخه پر خلکو ډزی ته جمتوالی نیسی  یا داچی کوز له پا کستا ن څخه  انتحاری واسکتونو سره راځي او دخلکو په مینځ کی ځان الوزی – تو لعنت دی پر دوی شه چی هیڅ ورځ نه دی چی دیو  مور ځوی  په شهادت ونه رسیږی .

چي ستا ځوی وژلی موری هغوی اشرار دي
ټول بیرحم ، جلادان  اوډیر  خونکا ر  دي
دوی په نوم مسلمان  له یو سر نامسلما ن دي
دپردو په مټ اوس دوی په واک اختیا ر دي
دوی د ځمکو اود پیسو سا رق  غاصب  دي
خلک د دوی دلاسه  ژوند  ځنی  بیزار دي
موریی څو پوری  چی  دوی  وی  په  واک

ژوند د ټول افغا نا نو خوار وزار دي
موری ستا په غم کی ځان خپل شریک بولم
زړه ځما هم ستا لپا ره نا قرار دي
مور یی نه غواړم چی زړه دی ناقرار کړم
خوشحا لی ته دی می زړه په تلوار دي
شهید ځوی دی خدای وبخښی مور جا نی
ځما د«مل» دوعا د خدای په دربا ر دي
****

دتولو مورګانو اوبیا په ځانګړی بڼه دافغانستان ټول میندو او مورګانو ته یو ځل بیا دمور دورځی په منا سبت مبارکی وایم .

**په درناوی (12-05-2019)**